مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیلانی ۲۰۲۳/۰۲/۰۳

# د پښتو شاعرۍ پر قافيې فونولوژيک بحث

د پښتو ادبياتو په تدريسي نصاب کې د « قافيه پوهني » په نوم يو مضمون تدريسيږي، په دې مضمون کې د پښتو شاعرۍ هماهنګه فونيمونه، فونيميکي جوړې، مورفيمونه او کلمې د عربي ژبې د عروضي سيستم تر چتر لاندې لوستل کيږي. دا لړۍ له ډېرې پخوا څخه را پيل او تر ننه پورې په هماغه پخواني روب داب روانه ده، شاعر مو د تخيلي ځواک کاروني، تصوير آفريني او پيغام پر ځای د قافيې کلمې پيدا کوي تر څو شعر يې مقبول او د شعر بڼه واخلي.

د پښتو شعر پر قافيوي جوړښت ډېرې ليکنې شوي دي، اما زه دلته د هغو ليکوالو نومونه اخلم چې يادې موضوع ته يې څه نا څه تنقيدي کتنه کړې ده، بيا وروسته خپله ليکنه پيلوم.

د. ا. درمل په « شعرستان » کې د قافيوي کلمو پر موسقيت او په شعر کې د هغه په ارزښت خبرې کړې دي، چې تر ډېره زه هغو موضوعاتو باندې په دې مقاله کې تمرکز نلرم. ا. غضنفر په « جادو ګر هنر» کې پر قافيې بحث لري، دی په دې ليکنه کې د شاعر د تخيل لپاره قافيه خنډ ګڼي، اما د غضنفر موقف په دې ليکنه د يو محافظه کار قاضي په توګه دی، کله قافيه ردوي او د شاعر تر څنګ دريږي او کله هم د قافيې تر څنګ دريږي چې محصل په واضحه توګه تری يو جهت نشي خپلولی.

ا. ن. منلی د « ادبياتو په دنيا » کې له غضنفر سره د پښتو قافيې پر فونولوژيک اړخ ځينې تبصرې لري، اما بيا هم د قافيې مجهوله الفبا يادوي او ورته معتقده ښکاري. د هرات پوهنتون د تعليم و تربيې استاد پوهنيار ميوند بختيار په خپله ليکنه « د دوديزې قافيه پوهنې تنقيدي جاج » کې د منلي پر نظرياتو ډېر تمرکز کوي او تر څنګ يې د پښتو قافيې فونولوژيک اړخ کې هم بحثونه لري، اما دی هم روی او نورو الفباوو ته معتقده ښکاري او دا لړی په يوه نسبي تغيير تائيدوي.

د قافيه پوهنې جوړښت او تيوري د عربي شاعرۍ د عروضي سيستم لپاره جوړه شوې ده او پر عربي شعر او هغه ته ورته عروضي سيستم د تطبيق وړ ده، د پښتو ژبې ځيږ جوړښت سيلابتونيک بڼه لري او د عربی عروضي سيستم جوړښت پرې د تطبيق وړ نه دی. که چېرې د پښتو ژبې په عروضي سيستم لړ و ډېر کار شوی هم وي، هغه په دې معنا چې د پښتو شاعرۍ هڅوکي يې ور مات کړي او په زوره يې د عروضي سيستم قالب ته ور اچولي دي.

په قافيه پوهنه کې د پښتو قافيوي کلمو شننه داسې کوي:

د ژوند د هر يو باب نه مې غمونه راټوکيږي
ظلمونه راټوکيږي کړاوونه راټوکيږي
په سترګو کې له سره ګلان مه پوښته ترې لاړ شه
د هر ګل په تفسير يې کتابونه راټوکيږي
کتاب شو پاڼې پاڼې قلمونه په ژړا شول
لفظونه په سلګو دي ترې آهونه راټوکيږي
بڼو کې شيمه نشته نور يې ساه هم په وتو ده
دانه وانه پراته دي ترې دردونه راټوکيږي
څه غلی شان تېرېږه ته يې هيڅ اورېدای نه شې
ددې کلي له خاورې هم غږونه راټوکيږي
عجيبه شان ګلان مو په دې ځمکه کې راخېژي
عطرو پرځای ترې هرځلې ګردونه راټوکيږي
( ا. اوری امانزی)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د قافيې پوهنې په رڼا کې ددې غزل « غمونه، کړاوونه، کتابونه، قلمونه، آهونه... » کلمې د قافيې کلمې او په دغو کلمو کې مشترک يا هماهنګه برخه « ونه» د قافيې توري ګڼل کيږي. بيا د قافيې په تورو کې « و » ردف بولي « ن » روی او « ه» وصل بولي.
د قافيې متخصصين د قافيوي کلمو لپاره ۹ توري، حرکتونه او عيوب ټاکي، چې پر هره برخه به يې تنقيدي بحث تر سره شي. کوم ۹ توري چې دوی ټاکي عبارت دي له: روی، ردف، قيد، الف تاسيس، دخيل توری، وصل، خروج، مزيد او نایر. دا توري بيا ځانته ځانګړې تعريفونه او ځانګړتياوې لري.
« و » ردف بولي او تعريف يې داسې کوي: په لغت کې دو پوښته ته وايي، او په دوه ډوله دی: الف ـ اصلي ردف:که چيرته د قافيو په کليمو کې هماهنګه برخه په خپلواک توري (الف ، و ، ي) پيل شوي وي خو چې وروسته يې بل متصل هماهنګ توری راغلی وي، په دې وخت کې د هماهنګې برخې د پيل توری اصلي ردف او ورپسې توری يې روی باله شي.
اوس دلته څو پوښتنې را منځته کيږي، لومړی: د کلمې شننه، د هغه د واولونو جوړښت، حرکتونه او پر مجاورو تورو د هغوی اغېز، تلفظ، ډولونه او داسې نور مسايل په ژبپوهنه کې مورفولوژی او لکسيکالوژی او په دوی کې بيا د فونولوژی کار دی، نو په پښتو ژبه کې ددې تورو نمونه، ازرښت، هدف او شننه څه معنا او ګټه لري؟
دويم: دا تعريف څه معنا، ردف په لغت کې « دو پوښته ته وايي...» او دلته يې ارزښت او هدف څه دی؟ درېيم: فرض کړئ که موږ همدا « و » د ردف پر ځای اکس و وای يا په کوم بل نوم ونومو نو څه به وشي؟ څلورم: سمه ده همدا «و» ردف دی، «ن» روي ده او «ه » وصل دی، نو ددې شننې فلسفه او ګټه څه او ولې دا کار موږ وکړو؟
حقيقت دادی چې دا پردۍ تيوري ده او زموږ د بلاغي علومو استادانو پرته له دې چې ددې ژبې قواعد وګوري پردي علوم يې ددې لپاره زموږ ادبياتو ته راوړي چې زموږ شاعري بې قاعدې پاتې نشي او يوه قاعده ورته موجوده وي چې تر ننه پورې حکمراني کوي او له ګټې يې توان زيات دی.
راځئ د يادو کلمو يوه ژبپوهنيزه شننه هم وکړو، وګورو چې څومره سره تفاوت لري او کومه قاعده زموږ د ژبې له اصولو سره اړخ لګوي. د « غمونه، قلمونه، کتابونه، آهونه...» کلمې سره هماهنګه کلمې دي. په دوی کې مشترکه فونيمکې جوړې يا مشترک فونيمونه يا هم مشترک غږونه « ونه » دي. همدا مشترک فونيمونه پورته ذکر شوې کلمې سره هماهنګه او هم وزنه کوي.
« و » په کې واول فونيم دی او د واول ځانګړنه داده چې د هر توري څخه مخکې راشي او که وروسته خپل اثرات لري او په کلمه کې تحرک را منځته کوي، يعنې يوه کلمه، مورفيم او ګرامري مورفيم يا د فونيم جوړو ته تحرک ورکوي او ژوندي کوي يې.
په دې کلمو کې هم « و » خپل رول لوبولی دی . « ن » کانسونينټ فونيم دی او د دوو واولونو تر منځ پروت دی نو ځکه په ابتدا کې په غونه يې شکل او په پای کې زور اخلي. که چېرې «و» او زور ترې لرې شي يوازې د «ن » په شکل ادا کيږي او نور حرکت نلري. همدارنګه که د «ن » ځای بدل کړو او په بله کلمه کې يې وکارو لکه نارنج، نو اوس يې پر وړاندې واول تغير شوی دی، چې د همدې واول د بدلون سره يې د غږ موزيکال هم بدلون و موند.
کانسونينټونه د واولو سره په ګډ استعمال کې د واولونو د فشار له کبله خپل غږونو او حرکاتو ته بدلون ورکوي، که له «ن» څخه لومړی واو لرې کړو د «نه» فونيمونه پاتې کيږي او غږ يې هم بدليږي. که چېرې د پای واول ترې لرې کړو او د سر واو پرېږدو نو څو ډوله غږونه توليدولی شي هغه دا چې «ون» بايد په څلورو يا پنځو فونيمونو په بڼه وويل شي، ځکه پښتو څو واونه لري.
په دغو غږونو کې د «ن» رول او برجستګي نشته، ټوله برجستګي د واولونو ده چې دا په يوه کلمه په مورفيمونو، فونيميکې جوړو او فونيم کې خپل اساسي تاثيرات لري او د غږونو موزيکال، هماهنګی او هم وزنتوب ته بدلون يا سمون ورکوي.
د قافيې متخصصين د واول ټول فونولوژيک رول د قافيې په ۹ تورو کې کښته پورته کوي، حال دا چې په يوه کلمه ټول بحث فونيمونو دی نه د نهو مجهولو تورو، همدا فونيمونه دي چې ګرامري مورفيمونه، خپلواک مورفيمونه او کلمې جوړوي او بيا همدا خپلواک توري دي چې دوی کې حرکت را منځته کوي او د يو واحده معنا داره غږ په توګه يې وړاندې کوي.
ددې برخې پايله داسې وړاندې کوم
په پښتو شاعرۍ کې د «قافيې کلمې» نومونه اصلاً پردی، نامانوسه او زموږ شعري مزاج ته يو مجهوله نومونه ده.
تر دې ښه نومونه دا کېدلی شي چې موږ په خپلو اشعارو کې د قافيې کلمې پر ځای هم وزنه کلمې/مورفيمونه او مشترک کلمې يا مشترکه فونيمونه/ فونيميکې جوړې وکارو.
د قافيې د کلمو ۹ توري اصلاً بې معنا او زموږ په شعر کې کوم علمي او ژبنيز رول نشي لوبولی، دا په حقيقت کې د يوې کلمې يا مورفيم د فونيمونو فونولوژيکې تغيرات، مجاوريت، تاثيرات او فشارونه دي چې د کلمو په آهنګ او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وزن کې تغير را منځته کوي، نو بنآ ياد توري او زردشتي فومورل بندي د لوستلو نه ده او ولې بايد زموږ پر شعر او ادبياتو حکمراني وکړي.
د کلمو هماهنګي او موزيکالتوب د ادا کولو پر مهال د فونيمونو په مخرجونو کې ښکاري، کله چې موږ دوه کلمې لکه: تل او سپل وګورو چې سره هماهنګه او هم وزنه نه دي نو موږ دا نه وايو چې قافيوي عيب لري، بلکې موږ ويلی شو چې فونولوژيکي هماهنګي سره نلري، يعنې معنا دا چې مشترکه فونيميکي جوړې سره نلري او بايد په مشترکه برخه کې يې هم مخرجه فونيمونه وکارول شي، لکه تل د هميشه په معنا او سل د ۱۰۰ په معنا. نو دلته ويلی شو چې مورفيمونه سره هم وزنه او هم آهنګه شول، مشترکه برخه يې هم له يوه مخرجه ادا کيږي. که چېرې بيا دفونيمونو په حرکتونو کې توپير ليدل کيږي، بيا به د لهجو ستونزه وي يا به د بلې ژبې کلمې وي او يا هم دا چې جلا واولونه به وي خو موږ ورته په خپله ژبه کې ګرافيمونه نلرو. په دې موضوع په راتلونکي ليکنه کې بحثونه لرم.
يادونه: په دې بحث کې يوازې د قافيې پر ۹ مجهولو تورو بحث شوی دی، په بله ليکنه کې د قافيې په عيبونو، د قافيې په ډولونو او حرکاتو تنقيدي بحث تر سره کيږي، نو تاسو نه هيله کوم چې پاتې شويو برخو په هکله تبصرې مه کوئ يوازې پر همدې بحث خبرې کوئ.

منښه او درنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ